ژباړن: سراج الحق ببرک زی خُدران ۲۰۱۳/۰۵/۰۴

د اسامه بن لادن بنکار په فلم او ریښتیاکي

دوهمه او ورستي برخه

سرچينه: د شترن مجله، ليکوالان: جوزپه ديګراځيه او مارتن کنووبي

* دبن لادن کور د پاکستان پوځ تر سترګو لاندي

د بن لادن کور دابيټ اباد ګارنيزيوني بنار په څنګ کي موقيت لرلو. پوځي اکاډمۍ ته د ده دکور نږدي والي سره دغه له شرمه دکه پوښتنه رامنځته شوه، چي څنګه دلته د ترهګرو مشر کالونه کالونه بي له دي چي وپيژندل شي، هستوګن شي.

* ،، ورننوځۍ او بن لادن ونيسۍ ،،

څنګه د US Navy Seals سرتيرو د سپورمۍ په شپه د ۲۰۱۱ کال د مۍ مياشت په اوله او دويمه نېټه پاکستان کي دترهګرومشر په پټنځۍ باندي برید پيل کړو، د برید په ترڅ کي د امريکا دولت لومړي نمبر دښمن ووژل شو.

* د عملياتو پيل

ولسمشر اوباما د اپريل په ۲۹ مه نېټه د عملياتود پيل امر ورکړو، د سي ای ای مشر لين پينتا William McRaven پر دغه دنده وګمارلو. دامیرالبحر مرستيال ته د عملياتو د پريکړې، دبرید پيل او دقوماندي وخت په واک کي ورکړو. په همدغه ورځ په ۱۰ بجو او ۴۵ دقيقو پينتا په يو ليکلي شوي سند کي ليکلي و، ورشۍ، ورننوځۍ، بن لادن ونيسۍ او که دی هلته نه و، بيرته راووځۍ.

* المان کي تم کيدل

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د Seals Team Six ځانګړي سرتيري داسي روزل شوي دي، چې دوی کولې شي سمدستي په هرځای کې عملیات پیل کړي. سر تیري د المان څخه افغانستان ته الوځي، لومړی کابل ته نږدې د بګرام هوایي اډې ته، بیا د دغې هیواد ختیځ د جلال آباد پوځي هوایي اډې ته رسول کیږي.

* پر پوله پټه الوتنه
د می میاشت په لومړۍ نیټه د Black- Hawk چورلکې د شپې په یوولس بجو د جلال آباد څخه الوتنې پیل کړي. داسي مالومیدي، چې چورلکې په ځانګړو پرمختللي وسایلو باندې بنې سمبال شوي وي، د پاکستان هوایي ځواک کنترول ونشوه کړي، الوتکې تر ابیټ اباد په رادارسیستم کې ووینې. د Chinick دووې سترې چورلکې د نورو چورلکو سره سمې د ابیټ اباد لویدیځ سیمو پورې والوتې. څود بیرته راتګ لارې امنیت خوندي کړي.

* د بریښنا قطعه کیدل
سي ای ای مخکې له مخکې د بن لادن د پټنځې پرتوله سیمه باندې بریښنا قطعه کړي وه. سیمه کې د سپوږمۍ په شپه کې هره خوا توره شپه وه.

* د ۲۰۱۱ کال د اپریل میاشت ۲۸ مه
په سپینه مانۍ کې یوه پریکړه کوونکې ناسته راغونډه شوه. یوپلوته د ولسمشر مرستیال او دفاع وزیر د دغې ډول برید مخالفت کاوه، ځکه دوی دغو مالوما تو ته دنا سمو او نا ډاډمنو مالوماتو په ځیر کتل. له بل پلوه د بهرنیوچارو وزیره او ډیرې مشاورینو د دغې ډول عملیاتو پلوي کوله. ولسمشر غواړي دبرید په اړه یوه شپه خوب وکړي، ده په بل ګډیځ کې وویل. ،، هو برید به ترسره شي ،،.

* د ۲۰۱۱ کال د اپریل میاشت ۲۹ مه
د Seals ځانګړي ځواکونه د شمالي کالیفورنیا څخه المان ته، له المان څخه د افغانستان دبګرام هوایي ډګرته او ورسته د جلال آباد په لوري الوتنه وکړه. د الوتنې پر مهال Mark Owen د CIA اجینټي Jen سره خبرې کوي. ده دغه ښځه مخکې په شمالي کالیفورنیا کې هم لیدلې وه. دی له دغې ښځې څخه پوښتنه کوي، ته څومره ډاډمنه یې، چې بن لادن په دغه خلکو کې شتون لري؟ اجینټه ځواب ورکوي او وایي، چې زه سل په سلو کې ډاډمنه یم.
دبرید وخت ورو ورو را لنډیدو او د برید کړي په تنګیدو وه. برید باید نوره په څو ورځو کې د سپوږمۍ په تندر کې ترسره شي. د انتظار په دویمه شپه کې Mark Owen له خپلو ملګرو سره د دیوالي بخاري ته ناست و. دده یو ملګري وویل، دی به هڅه وکړي، چې دغه Motherfucker مخ ته ونه ویشتل شي. دی وایي، ځکه ورسته به هرڅوک غواړي، چې د ده دمخ یو انځور وویني.

* د ۲۰۱۱ کال د می لومړۍ نیټه
د ګډیځ وختي Mark Owen دبریدلپاره ټول اړین شیان چمتوکړل. دووې مخابرې، د HK416 ماشینګني ته دري شاجوري. د توپ دنډي دتوپ پسکې په ځیر لوی لاسي بمونه، څو ډوله رڼا ورکوونکو ډنډي، یو پلاس، یوه جوړه لاسمخي یا دستکښ، پر پرې باندې د ژر ښکته کیدولو لپاره د ځرمني دستکښ او د ځانګړو حالاتو لپاره له ځان سره دکښ لاس په جیب کې دوه سوه ډالره نقدې پیسې واخیستې. تر شا یې په کمربندکې یوه غټه تیره چاړه د Daniel Winkler په نامه ځوړنده وه. د ده خټ ښه لوی وه، څو د مرمیو ضد واسکټ د پاسه واغستل شي. د ده ټینګه اوسپنیزه پوځي خولې او په شپه کې د لید لولپاره دسترګیو تجهزاتو ټول وزن اتکل څلورنیم کیلو ګرامه وه. د ده سترګیو څلور دوربینونه لرل، چې شپه کې د ښه لیدلو لپاره استعمالیږي.
د Owen دجګړیز تجهزاتو وزن ټول ډیرش کیلوګرامه و.
د می په لومړي نیټه واشنګټن کې لیون پینتا دهرې یکشنبې په ځیر د کاتولیکانو کلیسا ته ولاړو. ولسمشر د ګلف لوبه کوله. کله چې د ده تو پسکې نهم سوری ته ولویده، ده لوبه بس کړه.
پینتا په ۱۳بجو او۲۲دقیقو د سي ای ای د ودانۍ له پاسني پوړ څخه چیرته چې د کانفرانس خونه ده، د جلال آباد په لور د برید امر ورکړ. ورننه وځې، بن لادن وموموی او کله چې دی هلته نه وه، تاسو باید چې څومره ژر کیږي، بیرته راووځی . د Seals ځانګړي ځواکونو دووې چورلکې ور والوتلې.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

* د ۲۰۱۱ کال د مۍ دویمه نېټه
Mark Owen په لاره کې لږ سترګې پټې کړې، د ځانګړوعملیاتو مشر د ۹۰ دقیقو الوتنې ورسته وویل.،، یوه دقیقه پاتې ده ،،. Mark Owen کړې شي اوس دابیټ اباد شرمونکې ځوکې او د ډې وپیژني، ډیرلږ یوځو چراغونه بل وو. په ګرد چاپیرکې چیرته چې خلک اوسیدل دسیمې ټول چراغونه مړه وو. سي ای ای مخکې له مخکې په دغه شپه دسیمې بریښنا قطعه او د چراغونو د مړولو کار کړې وو، تر دې دمه هېڅ مهال په دې ډول د چراغونو مړول یا د بریښنا قطعه کول کار نه وو ترسره شوې.
د عملیاتو مشر د چورلکې ور خلاص کړود Seals سرتیرو د کوزیدو لپاره ځانونه چمتو کړل. دفعتآ چورلکه ولړزیده او ۹۰ درجې ښې خوا ته تاو شوه. Mark Owen وراخطا هڅه وکړه، چې په کوم ځای کې ځان تم کړي او غواړي ځان کابین ته بیرته ورننه باسي. سره لدې دوی ټول د چورلکې په دړه کې سره را ټول شول. څو دوی ځانونه د پرې له لارې ښکته کړي. د Mark Owen پښې په هوا کې ځوړندې او للیږي. چورلکه وروړو ځمکې ته نږدې کیږي. دچورلکې د بادپکې په برخه کې خرابې رامنځته شوې ده. دشپې هوا ډیره توده وه، تر هغې ډیره توده وه، چې سي ای ای اټکل کړي و. توده هوا د دیوالونو ترشا راټولیږي او تم کیږي، دغه هوا ډیره ډېه هوا وه، ترهغې چې ور ته فکر شوې وو. د Mark Owen په فکر کې یوشي ګرځي، هغه Shit Shit Shit و.
سپینه مانۍ کې ولسمشر اوباما دSituation په Room کې ورته ناست دی. دی د عملیاتو په بهیر کې نیغ په نیغ کوم رول نه لوبوي. د ډرون الوتکې د ایبټ اباد په فضا کې دوه میله جګې ګرځیدلې او د الوتکو لخوا په ژوندی بڼه اخستل او رالیږل شوې فلم په بله خوا کې ښودل کیږي.
کله چې اوباما خبر شو، چې یوڅه له کنټروله وتلې، دی سمدستي جګ شو او په منډه بلې خوا ته ولاړ. ده وویل، زه یې باید وګورم، چې څه پېښ شول. په مخابره کې امیرالبحر Admiral Mc Raven اوریدل کیږي: دی د چورلکې له غورځیدو ورسته وایي، زما سړي دغسي پیښوته روزل شوي دي، دوی به د دې برسیره سم عملیا ت تر سره وکړي.
Mark Owen محسوسوي، چې ځنګه د چورلکې پوزه ځمکې ته ور ټیټیږي او ورو ورو پسته ځمکه برمه کوي. دا وخت په سیمه کې دشپې ۱۲ بجې او ۳۰ دقیقې دي. د Seals سړي د چورلکې څخه توپونه وهي او راکوزیږي.
د واشنګټن په سپینه مانۍکې فوټوګراف Pete Souza هغه شیبه ثبتوي، کله چې اوباما په ډیره وارخطایي سره ګوري، هیلري کلنټون خپل لاس خولې ته نیولي دی. ټول هک پک دي او په ژوندی بڼه فلم ته ګوري. دغه انځوریزه شیبه په تاریخ کې ثبت شوه.
د دوهمې چورلکې Seals سړیو پلان بدل کړو، دوی د پلان له مخې دجنګي قلا پر بام باندې ښکته نشول، بلکې له ودانۍ څخه بهر کوز شول. له دوی سره یو ژباړن او د Cairo په نامه یو سپي هم شته.
Mark Owen او ملګري یې د میلمستون پرخونو عملیات پیل کړل، به دغه خونو کې الکویتي اود ده ورور اوسیده. دوی ورو ورو دیوې فولادي ډبلې دړې سره مخامخ شول. د Mark Owen د پریکړې سره سم دړه په بم والوځول شوه. مخکې له دې چې دوی کوتو ته ورننوځي، پردوی ډزې وشوې، دوی هم ځوابې ډزې پیل کړې.
له دې ورسته دړه خلاصه شوه. یوه ښځه ناري سوري وهي. Owen او د ده د Seals ملګري په ورو ورو دړې ته ور نږدې کیږي. د Owen خولې د ده پرسترګو ورتوییږي. د دې برسیره د چورلکې دځرخکې او د بادپکې ګرداوخاوري له مخکنه د ده پرمخ او سترګو پرتې وې. ده ته ډیره ګرانه وه، چې دشپې په اغوستل شویو زرغوني سترګیوکې اوپه شپه کې د لیدولود نورو تجهیزاتو سره د ښځې وني او ځیرې پیژندنه وکړي. دی ګوري چې د ښځې په غیږ کې یوڅه دي، ایا دا یو بم دی؟ ده پر ماشه ګوته ټینګه کړه، دی یوکوشني ماشوم وینې، چې له کوره په را وتو دی.
Owen کورته ورننه وځي، دی وینې چپالکویتي په وینوکې پرځمکه پروتدی. دی غواړي ډاډمن اوسي او پرالکویتي یو څو نورې ډزې هم کوي.
د ودانۍ په دریم پوړ کې اوسامه بن لادن د خپلې لور مریم له خوا را ویښول کیږي. دی خپلې لور ته وایي، ځه بیرته کوزه لاړه شه او هلته صبر وکړه.
Owen او د Seals نور ملګري د ودانۍ شمالي خوا ته ور روان شول. لومړي پوړ ته په لاره کې یوه فلزي دړه ده، چې باید په بم الوځولې شوې وې. دوی ودانۍته له سطر و اخفا سره ورو ورو ورننوځي. دلته یوه کړه زینه یا اړه کې دي. دی فکر کوي، دلته پاس به بن لادن وي؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کله چې دوی یو څو اړکي ورځې شول، دوی یو سړی ولید، چې ږیره نه لري. دغه دښن لادن زوی خالد دی. دی سمدستي ځان په بل کونج کي پټوي. د Seals یو سرتیري په ورو ورو پسیدو، وایي خالده! کله چې د بن لادن زوی خپل سر له پټ شوي کونج څخه لږ څه را وباسه، دی د Seals دیوبل سرتیري له خوا سمدستي مخامخ مخ ته وشتل کیږي.
واشنګټن کي ولسمشر له خپلو همکارانو سره همداسي په کوچني خونه کي ورته ناست دی، څه چې په دغه کورکي پیښیږي، دوی دغه صحنې نه وینې.
ورسته به اوباما ووایي ،، چې دا زما د ژوند تر ټول ځلویشت اوږدې دقیقې وې،،.
دزیني دغه نرۍ لاره یو دهلیزته ورګډیده. په دهلیز کي یوه دره په کینه اوبله په ښي خوا کي وه.
د Point man ،، هغه سرتیري ته ویل کیږي، چې د عملیاتو پرمهال تر ټولو مخ ته دروموميِ ،، نور د ده ترشا د پرمخ تګ په حال کي درومي. دغه سرتیري د زیني په پنځم اوورستي اړکیو کي ولاړ وو او Owen Mark دوه بوپ، بوپ ډزنونه واریدل. چې د Ponit man سرتیري پر یو سړی ډزې وکړي. دغه سړی د ښي درې څخه لږ څه راووت. بیا دغه سړی د دزو څخه ورسته په توره شپه خونه کي ورک شو. Ponit man سړی د همدې خوني درې ته په ورو ورو ور روان شو. د ده تر شا Owen ور روان دی ، دوی دکوتي منځته ورننوتل ،ګوري چې د یوسړی څنګ ته دوې ښځې ولاړي دي. دغه سړی د کټ پښې لوري ته پرځمکه لویدلي دی. ښځې ژاړي او ناري سوري وهي،یو ه ښځه ځان پر Ponit man ورغورځوي، دی دغه ښځه یو څنګ ته پوري وهي .
دکټ ترڅنګ پروت سړی پرته له لستوني څخه یوسپین T-Shirt او یو پرتوګ اغوستي دی، ده یو رون نصواري څادر له ځانه هم تاو کړي و. دغه سړی د کوپري په ښي ارخ باندې په ډزو لګیدلي وه. د Seals دغو دوو سرتیرو پر لاندې پروت سړی باندې دخپلې خولې لیزر وړانګې رو واچولې او ورسره په نورو څو ډزو یې هم وویشت.
دغو سرتیرد الوتکوڅخه د ښکته کیدوله شیبې څخه تر اوسه په دا لږو څو دقیقو کي څلور سړي ووژل ، یوه ښځه وژله او دوې نوري ښځې ټپياني کړي.
د وژل شوي سړی مخ دپیژندلونه وه او په وینو کي پټ وه. د دې برسیره سرتیري په دې باور دي، چې بن لادن د دوی مخي ته پروت دی. دویلا نه غواړي، د مخابرې له لارې د ده د وژل کیدلو خبر ورکړي. تاسو پوهیږي چې ولسمشر زموږ خبري اوري. Owen د وژل شوي سړی څخه عکسونه واخیستل. یو بل سرتیري د DAN معاینه لپاره یو ه پرخه ترینه واخیستله.
کله چې د Seals یو سرتیري له یو ماشوم څخه پوښتنه وکړه، چې دغه مړ شوي سړی څوک دی؟ ماشومي ځواب ورکړو، دا اوسامه بن لادن دی. ته ډاډه یې؟ هو، دغي ماشومي جینکي وویل.
پوځیانو دغه عملیات په څو پړونو کي ویشلي وو، هرې مرحلې د ابیځې یو خپل کوډ درلود. G ټکي د بن لادن د ډاډمن نیولولپاره ټاکل شوي و.
د لادسپکر له لارې ولسمشر او دهغه مشاورینو د امیرالبحر ،، „ Admiral Mc Raven „ Geronnim EKIA Geronlmo د G جې کوډ EKIA د Enemy Killid in Action غږ اوري، چې دښمن په عملیاتو کي ووژل شو.
له دوی څخه د خوشحالي هیڅ کوم غږ نه اوریدل کیږي. یواځي اوباما د نیولو څخه ورسته وویل. دی له موږ سره دی، دی له موږ سره دی، موږ دی ونیولو.
Seals سرتیرو په بوجیو بوجیود USB، DVD، CD، پنځه کمپیوټر، ویډیو، لیکونه، لاسوندونه او داسي نور توکي سره را ټول کړل. له دې ورسته دوی غورځیدلي چورلکي ته بمي چاودنه ورکړه. دوی په دویمه Black Hawk چورلکي اودیوي بلي لوی ورسته راغلي چورلکي سره بیرته ولاړل. دوی ګهیځ وختي جلال آباد ته ورسیدل.
Marc Owen د مړي بوجي سر خلاصه کړه او خپل قوماندان ته وویل، دا ستا سړی دی.
Admiral Mc Raven له یو سرتیري څخه چې ۱،۹۳ سانتي متره جګه ونه درلوده، وغوستل، چې د مړي تر څنګه څملې.
Mc Raven وویل: ورسره سم دی.
په یوه هنګر کي د سي ای اي اجنټه Jen ناسته وه. د هغي مخ ټکسپین اووښتي وه، کله چې Jen خپل سرتیري ولیدل، د ډیرو کالو راهیسي د زیار او تکلیف یستلو فشار له امله یودم په ژړاه شوه.

* د ۲۰۱۱ کال د مې میاشت ۶ مه نېټه
د برید څخه ورسته دجمعي په ورځ ولسمشر اوباما Fort Campell Kenntucky ته ولاړ. د Seale Team او پیلوټان دبرید په اړه ولسمشر ته د نورو جزویاتو رپوټ ورکړو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چا بن لادن ووژلو، دا ګرانه پوښتنه څوک نه کوي. ولسمشر پوهيږي، چې دا خبره يا پوښتنه بايد پټه پاتې شي.
ولسمشر د Seasl ځانګړي ځواک ټول ټيم ته د هيواد تر ټولو ستر اعلي دولتي نشان ور ډالۍ کړو چې تراوسه هيڅ کوم پوځي قطعي ته ورکړل شوي نه و. ولسمشر هم ډير جدي او احساساتي شو، کله چې ده ته ځانګړي ټيم د امريکا بيرغ ورډالۍ کولو. دا هغه بيرغ و، کوم چې دوی د ماموريت پرمهال له ځانه سره ګرځاوه.
د ټيم غړو د بيرغ تر شاه خپل لاسليکونه لاسليک کړل. دغه بيرغ نن هم په يوه چوکاټ کې د سپينې مانۍ په دوهم پوړ کې ځوړند دی، چيرته چې د ولسمشر شخصي خوني دي.

پای

لمنليک:
د پښې د بيا رغوني، ښودني او پلټنې په اړه دغه پټ مالومات د سي ای ای له کارکونکوڅخه، د امريکايي پوځيانو، رسنوالو او ژورناليستانو سره د پټو بنستيزو خبرو اترو، مرکو او ناستو له لارې ترلاسه شوي دي . سربيره پردې په ځيرنه او ليکنه کې اخيزونه:
د فلم په اړه د ښاغلي Mark Boal ليکل شوي کتاب ځخه او د ابو صوعان د FBI اجنټ له مرکو ځخه او دنوره سرچينو لکه اخبارونه، مجلي اولاندې کتابونو ځخه د Mark Owen کتاب په نامه، ځخه اخيستل شوي دي.
Navy – Sael Matt Bissonnette د Mark Owen په بدل يا مستعار نوم باندې د خپلو کوماندويي عملياتو په اړه ليکنې کړي دي.

Mission erfüllt ,Heyne Verlag
Peter L.Bergen :Die Jagt auf Bin Laden ; DVA ;Mark Bowden :Killig Osama; Berlin Verlag
Chuck Pfarrer : Codewort Geronimo , Plassen .

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ